# غ ر ی ب ک

# غریبکي

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر
[illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک: غريبک**

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ايډېټور:**

**د پښتنۍ ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت ـ تله / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک
..............

# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

پخښتی............................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحيم ................................................ ۲
ليکي پوهه:................................................................ ۳
لړليک ........................................................................ ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد)............................................... ٥
د يادښتونو له پاره:....................................................... ۷
ناانډوله (ناول، کيسه يا داستان) .................................... ۸
د چاپ شويو کتابونو لېست........................................ ٥۸
د کار لاندې کتابونو لېست ....................................... ٦۲
د امکان او وخت په صورت کې.................................... ٦۳
د پخښتی ځټ ............................................................ ٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
..............

## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه، ننګرهار ولایت کې پیل شوې، وروسته بیا پېښور ښار ته غزېدلې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډه (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
.............

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کېږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

..............

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..............................................................................

۲- ..............................................................................

۳- ..............................................................................

۴- ..............................................................................

۵- ..............................................................................

۶- ..............................................................................

۷- ..............................................................................

۸- ..............................................................................

۹- ..............................................................................

۱۰- ..............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

هغه د ننګرهار ولایت په یوې بې وزلې (غریبې) کورنۍ کې سترګې دې نړۍ ته، خلاصې کړې.

پلار یې پردۍ مزدورۍ کوې.

په دې ورځ (زیږد ورځ) کار ته تللی و.

کله چې راغی، ناینې ( نایی، ډم، سلمان، بربر) ورته زیری ورکړ.

هغه خوشحاله شو او ناینې ته یې و ویل:

مننه کوم.

پر غریب به، څه زیری وي.

په هر صورت د شکر ځای دی.

په جبونو کې یې لاس و واهه، هیڅ یې و نه موندل چې د ناینې د زیري په هکله یې، هغه ته ورکړي.

بیا یې و ویل:

بښنه غواړم.

اوس مې په جب کې هیڅ، نه شته.

ټول جبونه مې د ستا په مخ کې وکتل.

یوازې د نصوارو کوتی (قوطی) په کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

بل کوم وخت چې پیسې مې لاس ته راغلې او یا هم کوم کس راته غنم او یا نوره غله راکړه، حتما تا ته به هم، یوه څه د ستا د زېري په بدل کې، درکړم.

نایې و ویل:

کومه ستونزه نه شته!

زه پوهېږم .

ستا روزګار هم، زما په شان ښه نه دی.

هسې غریبي پر ټولو زوره وره ده.

ما هم مبارکي، د سیمې د دود سره، درکړه.

خدای دې وکړي چې په زړه کې دې، څه تېر نه شي.

هغه و ویل:

نه!

څه به، تېرېږي.

بیا یې د نایې نه، خدای پاماني واخیسته او کور ته، روان شو.

کور ته د ننه شو.

د نایې ښځې، لمړی هغه ته سلام بیا یې مبارکي، ورکړه.

هغه هم سلام ته وعلیکم او د مبارکۍ ویلو نه یې، مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

یوه ورځ تېره شو.

ښځې یې خپل مېړه ته و ویل:

پر الک به څه نوم کېږدو؟

هغه و ویل:

د دې له پاره چې زمونږ روزګار ښه نه دی، غوره به وي چې پر هغه غریب نوم کېږدو.

خدای مهربانه دی چې د هغه ژوند سرچپه او د غریب پر ځای، خان او یا بډایه شي.

ښځې ته یې و ویل:

د خان ګل اکا ژوند دې په یاد دی؟

ښځې یې و ویل:

هو!

په یاد مې دی.

هغه هم پر خپل زوی نوم غریب ایښی و.

په لمړی کې به، ټولو پر هغه خندل.

ټولو به ویل:

بل نوم پر تا کات (قات) و چې پر زوی دې نوم، غریب کېښود؟

کېدای شي په ریښتیا هم،غریب لوی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

..............

مګر د هغه زوی څومره بډایه شو.

ځمکې یې وپیرې، کلا یې جوړه کړه.

بیا څومره بزګران او مزدورانو، د هغه سره کار کاوه.

ښځې یې و ویل:

هو!

ته هم، رښتیا وایی.

څه کې چې خیر وي.

بیا دواړه دې پایلې ته ورسېدل چې پر الک نوم غریب کېږدي.

څو ورځې تېرې شوي.

څه دوستان او نږدې خپلوان یې، د نایڼ په مرستې، خبر شوو.

هغوی پوهېده چې د غریب دکورنۍ روزګار وران (خراب) دی.

هر کس به چې د هغه کورته ته، له ځانه سره به یې څه خوراکي توکي او د ماشوم کالی او جامي وړې او د غریب کورنۍ ته به یې ورکوې.

هغوی به هم د خپلوانو او دوستانو نه، مننه کوه او هغوی ته به یې، کور ودانی ویل.

ورځې تېرېدې او الک هم لوېده.

لمړی په خپوړو او بیا وروسته په ګرځېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

پلار یې کوښښ وکړ تر څو هغه، سونت (سنت) کړي.

موضوع یې د نایڼ سره ګډه (شریکه) کړه.

نایڼ، خواشینی شو.

د غریب پلار بیا هغه ته، و ویل:

لکه چې وا دې نه وریږد؟

هغه و ویل:

وا مې وریږد.

خو!

بیا یې وپوښتل:

مطلب دې د خو، څه ده؟

هغه و ویل:

کال مخکي ستا ښځې په دې هکله زما د ښځې نه غوښتي و.

ما او زما ښځې په دواړو غریبک په ځیر سره و کاته.

و مولیدل چې هغه د سونت (سنت) وړ نه دی.

دا په دې مانا (معنی) چې هغه نرښیځک دی.

د نایڼ د خبرو په اوریدو سره، د غریب پلار مړاوی شو.

او د مني ګل په شان ورژیږد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

هغه په زړه کې ډېر پلانونه، نیولي و.

تر دې چې څه انجوني يې هم د هغه د ودولو له پاره، په پام کې نیولې وې.

بیا يې سوړ اوسېلی و باسه.

سر يې ټیټ، واچوه.

د ناینې نه يې هم خدا پاماني وانه خیسته او په لاره، روان شو.

لږ مخې ته نه و تللی چې، پښه يې په یوې ډبرې کې ونښته او پر ځمکه پړمخې، ولوېد.

څوک نه وو چې هغه سره مرسته وکړي او هغه راپورته کړي.

اخوا دېخوا يې و کتل.

بیا په خپله له ځایه، راپورته شو.

کالي يې و څنډل.

د زنګنو سرونه يې لږ ټپي شوي وو.

بیا ورو، ورو پر لارې روان شو.

د لاسونو اورغوي يې هم، پرځمکې، کلک لږېدلي وو.

لاسونه او نستوړي يې پر خاورو سپېره وو.

خپل نستوړي يې و څنډل او ویې غوښتل تر څو کومه نږدې بیاله (ویاله) و مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

لږ مخ ته، لاړ.

کوشنی بیاله یې مخې ته، راغله.

د ویالي تر غاړې کښېناست.

لاسونه یې، پرېمنځل.

بیا یې، مخ ته اوبه واچوې.

مخ یې هم پرېمنځه.

بیا یې په لپو کې اوبه وڅښې او تنده یې، پرې ماته کړه.

لاسونه یې هم څه ژوبل شوي وو.

له ځایه پاڅېد.

لاسونه او مخ یې پر څادر وچ کړل.

بیا پر لارې روان شو.

مخې ته یې، د یوه خان دېره راغله.

په دېرې کې، خان پر کټ ناست او څه کسان ترې چاپېره وو.

هغه دېرې ته نږدې شو.

سلام یې واچوه.

خان هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا د خان ناظر غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته، راشه!

هغه هم دېرې خوا لاړ.

د ټولو سره یې روغبړ وکړ.

بیا خان و ویل:

څو موده کیږی چې، نه معلومیږي.

ناظر په خندا و ویل:

د هغه په کور کې نوی ماشوم پیدا شوی دی.

خان و پوښتل:

الک دی که جلۍ؟

هغه سر تیټ واچوه.

سوړ اوسپلی یې وباسه.

ناظر و ویل:

خان صیب!

زه خبر یم.

خان و ویل:

و وایه!

ناظر و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

الک غوندې دی.

خو!

خان و ویل:

دا څه شپر(شفر) دی؟

پاکه خبره وکړه.

زه په شپرو(شفرو)، نه پوهېږم.

ناظر زیاته کړه.

هغه نرښیځک دی.

پلار یې د شرمه، نه شي وپیلای.

خان و ویل:

په دې کې څه شرم دی.

د خدای، ورکړه ده.

روغ او رمټ دی.

بیا یې و پوښتل:

نوم مو پرې څه ایښی دی؟

هغه و ویل:

نوم مو پرې غریب، ایښی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

.............

بيا خان و ويل:

ښه نوم دی.

د هغه سره همداسې نوم، ښه ښکاري.

د غريب پلار، څه و نه ويل.

بيا بل کس هغه ته، په پيالې کې، چای واچوه.

د غريب پلار په زنګنو کښېناست او پر چای څښلو يې پيل کړ.

چای يې و څښنه.

بيا يې خان ته و ويل:

کولای شم، لاړ شم؟

خان و ويل:

غرمه نږدې ده.

د غرمې ډوډۍ، زمونږ سره وخوره، بيا به لاړ شې.

ورځې هسې لويې دي.

د غريب پلار و ويل:

مننه کوم.

هر وخت مې ستا د دسترخوان ډوډۍ او د چايجوش چای څښلی دی.

خان و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غریبک

.............

ستا خوښه!

دلته هر وخت یوه او دوې مېلمانه وي.

د غریب پلار و ویل:

مننه کوم.

په عزت اوسې.

بیا له ځایه، پاڅېد.

څادر ته یې ټکان ورکړ او پر اوږه یې واچوه.

بیا یې خدای پاماني، واخیسته.

د دېرې ناست کسانو، هغه ته په مخه ښه و ویل.

د غریب پلار هم خپلې موخې پسې، روان شو.

دوې کاله تېر شوو.

غریب به کله نا کله د باندې وته.

خلک د هغه د اصلي کیسې نه، خبر نه وو.

په لارو او کوڅو کې به هغه ته خلکو غریبک ویل.

کال بل هم، تېر شو.

د غریب پلار په نصیب کې بل اولاد، هم نه و.

غریب به، ورځ تر بلې لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

..............

هغه به غوښتل چې د انجنو سره، لوبې وکړي.

په کور کې به یې کوښښ کوه چې نانځکې کېنوی.

هغه په کور کې ناځکې نه درلودې.

نانځکې (ګوډۍ، ګډۍ) به هم هغه ته، نورو جنکو ورکوې.

بیا وروسته مور یې پوی شوه چې د هغه مزاج زنانه دی، هغه ته به یې نانځکې جوړوې.

نانځکې به یې د سپینو مالوچونه جوړوې او هغو ته به یې په مخونو کې پوزې، سترګې او غوږونه په رنګه تارو او ډمسونو سره اوبدې.

بیا به یې هغو ته په لاس، کالي ګنډل او اغوستل.

هغه به هم د کلي خلکو نه کوم چې به یې نوي کالي جوړول، پاتې (اضافي) ټوټې (پارچې) ټولوې او هغه به یې خپلې مور ته ورکوې، چې هغه ته د نانځکو د پاره، کالي وګنډي.

هغه به په نانځکو، نومونه هم ایښودل لکه:

سپوږمۍ، کوتره، بیزو او داسې نور.

وختونه تېرېدل او هغه هم لوېده.

د هغه په کلي او نږدې سیمو کې ښوونځی نه و.

هغه به د نورو واړه الکانو او کوشنیو انجنو سره، یوه ځای د کلي جومات ته، ته او د ملا امام نه به یې دیني زده کړې کوې.

هغه په لوستلو کې هم دپ (سست ذهنه، کور ذهنه) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

..............

په ډېرو ستونځو به يې څه زده کول او ډېر ژر به يې د ماز غو نه، وتل.

ملا به پر هغه، هره ورځ په غصه کېده.

کله ناکله به يې  د هغه پلار ته هم، شکايت کوه.

پلار به يې هم، پر هغه په غصه کېده او کله نا کله به يې پر هغه د څپېړې وار هم، کوه.

هغه به ډېر کوښښ کوه چې د انجنو سره وګرځي.

دا کار د ده له پاره، ستوزمن و.

کله به چې هغه د انجنو سره په لوبو اخته و او د انجونو کورنيو غړو به چې ورته پام شو، هغه ته به يې ويل:

ته دلته څه کوې؟

نه شرميږې د انجونو سره لوبې کوې؟

غټ الک يې.

لاړ شه د خپلو همزولو او همجنسو سره، لوبې وکړه.

ځينې وختونه به پر هغه په غصه کېدل او هغه به يې د لوبو ډګر نه، شاړه او ځينو کسانو به پر هغه د څپېړی وار، هم کوه.

بيا هغه به په ژړا کېده او کور ته به، ته.

سترګې به يې پر ژړا سرې وې، او خپلې مور ته به يې شکايت کوه.

مور به يې هغه ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ریښتیا وایی.

ته باید د الکانو سره لوبې، وکړې.

هغه به ویل:

زه په لوبو کې، د انجنو سره خوشحاله یم.

د الکانو سره، زما لوبې نه راځي.

هغوی جلا او بل راز لوبې کوي، هغوي چتې، اډک، توپ ډنډه، منډې، خوسی، ټیږه اچونه، غیږې او داسې نورې لوبې کوي.

یادې شوې لوبې، ما ته خوند، نه راکوي.

زما د نانځکو (ګوډۍ) کېنونې، پټ پټونې، منګی ماتې او ټال لوبې خوښې راځي.

مور یې په قضې پو هېده، هغې به کوښښ کوه چې هغه دې ته و هڅوي تر څو د الکانو سره لوبې او عادت شي.

مګر دا کار، د هغه د پاره ناشونی و.

وختونه، تېرېدل.

خلک هم د هغه په ستونزو پو هېدل.

ځورول (اذیت او آذار) به هم په کلي کې لږېده.

هغه به کوښښ کوه چې د انجنو کالي واغوندي او د هغو په شان شي.

مګر د هغه پلار او مور به کوښښ کوه، چې هغه دالکانو کالي واغوندي او د هغو په شان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

.............

څه وختونه، نور هم تېر شوو.

غريبک سندرو(بدلو) زده کولو ته، ملا وتړه او ښځينه سندرې او ټپې يې زده کړې.

بيا يې لږ نڅا هم، زده کړه.

کال وروسته يې دايره (تنبل) وهل هم زده کړل.

هغه به په کوشني والي کې هم، کله ناکله د کوژدو(کوزدو) سونتيو او داسې نورو خوشحاليو مجلسونو ته، ته او ونډه به يې په کې اخيسته.

الته به يې سندرې (بدلې) ويلې.

کله نا کله به يې نڅاوې، هم کوې.

هغه ورو، ورو مخ په ځوانېدو شو.

ږيره او برېت يې هم، را نه غلل.

خلوکو به ور سره ټوکې کوي او هغه ته به يې ويل:

غريبکه!

قد دې لوړ او ځوان شوی يې.

څه وخت به ږيره او بريت و باسې؟

هغه به ويل:

نه پو هيږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

.............

کېدای شي کال او يا بل، کال ته.

بيا خلکو به پرهغه خندل او ويل:

ته به هېڅکله ږيره و نه باسې.

ستا په نصيب کې ږيره وېستل، نه شته.

غريبک به و ويل:

تاسو، څه واياست؟

تر اوسه په سمه توګه ځوان شوی، نه يم.

تا سو به زما ږيره او برېت وګورئ.

تولو به، خندل.

د څه شي ږيره او برېت؟

ږيره او برېت خو د نارينو په مخ راځي.

نه د ستا په مخ.

ته خو ...... يې.

هغه به زو رېده او څه به يې نه ويل.

کلونه (کالونه) تېر شوو.

هغه بل کسب او کار نه درلود.

هغه به د خپلې مور سره، په بډايه کورنو کې ښځينه کارونه، کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

دا کارونه به په لاندې ډول وو:

- کالی منځل
- کالی لمر ته، اوارول
- کالي ښویول (اتو کول)
- اوړه لمدول (لندول)
- تناره کې او یا په تبی ډوډۍ پخول
- کوټې او انګړ جاړو(جارو) کول.
- غوا لوشل
- مستې او پنیر جوړول
- تروې شاربل او کوچ وېستل
- ماشومان کرارول (قرارول) او هغو ته، بدلې ویل.
- پخلی کول (کتغ پخول)
- تغرې، توشکې او بړستنې لمر ته، اچول
- تغرې څنډل او داسې نور کارونه اوښځینه دندې.

کله ناکله به انجنو او ښځو به د هغه د مور نه غوښتل چې غریبک هغوي ته سندرې (بدلې) و وایي، هغه به دایره هم وهه او کوم وخت چې به مست شو، په نڅا او یا ګډا به یې هم پیل کوه.

هغه به، خلک خندول او خوشحاله ساتل.

د الکانو چې به زړه تنګیده او یا ډیر ستومانه کېدل، د هغه به یې و غوښتل چې، هغوی ته مجلس تود (ګرم) په سندرو ویلو، دایره وهلو خوشحاله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک
..............

هغه به هم، څه چې په وس کې درلودل، ځوانان او الکان به يې خوشحاله، ساتل.

الکانو او ځوانانو به هم، د غريبک سره پيسې، غلې او دانې مرستې کوې.

غريبک به پيسې او غلې اخيستې، خپل کور ته به يې وړې او د خپلې کورنۍ سره به يې خرڅوې او خوړې.

څوکاله، تېر شو.

د هغه پلار، کلک (سخت) ناروغه شو.

هغه يې د ښار تکړه رنځور پوي (ډاکټر) ته يووړ.

دوايې يې واخيسته او د څه مودې له پاره جوړ او روغ شو.

کال وروسته بيا ناروغ او د وينې فشار يې لوړ شو.

هغه يې په ډېرو ستونزو سره، د جلال آباد ښار صحت عامې روغتون ته ورساوه.

د هغه ښی اړخ، فلج شو.

الته څو ورځې او شپې، بستر شو.

غريبک او د هغه مور هم الته ورسره، پاتې شوو.

مياشت تېره شوه خو د هغه په روغتيا يې حالاتو کې، کوم بدلون، رانه غی.

بيا ډاکټرانو غريبک ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خو ستا د پلار د تداویې امکان نه شته.

غریبک و پوښتل:

چېرته یې امکان شته؟

ډاکټر و ویل:

په ګاونډیو هېوادونو کې له پاکستان، هند، روسې، فرانسې او داسې نورو هېوادنو کې یې امکان شته.

غریبک و پوښتل:

کېدای شی د ستاسو روغتون له خوا وپېژندل شي؟

هغه و ویل:

هو!

کېدای شي!

خو!

الته روغتونونه، شخصي دي.

ټوله درملنه په شخصي پیسو کېږي.

هېڅ شی سرکاري (حکومتي، دولتي) او په وړیا توګه، نه دي.

د وېزې اخیستل، الوتکې تکټ پېرودل، روغتون پیسې (فیس)، دوايي، د شپې اوسېدل او خواړه، ټول په پیسو دي.

غریبک سر ښکته واچوه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
.............

ما سوچ کاوه چې زمونږ هېواد غوندې به، خدمتونه په وړیا توګه(ډول) وي.

ډاکټر و خندل او ویې ویل:

په پښتو ژبې کې یوه متل دی، چې وایی:

د ډول غږ، د لرې خوند کوي.

غریبک و ویل:

اوس پوی شوم.

زمونږ هېواد چې زما په شان غریب دی، خو صحي او تعلیمي خدمتونه په کې، په وړیا توګې دي.

خلک هسې نه وایي:

خپل وطن - ګل وطن

په ریښتیا چې خپل وطن د ګل په شان وي.

خبرې اترې ډېرې شوې.

غریبک د ډاکټر نه پوښتنه وکړه:

کېدای شي څه و خت نور یې هم په روغتون کې بستر کړم؟

ډاکټر و ویل:

بسترول یې کومه کټه، نه لري.

ښه به دا وي چې هغه کور ته یوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الته به ستاسو تر سترګو لاندې، پروت وي.

تاسوهم اړین یاست، څه کار وکړئ.

دلته مونږ د هغه له پاره نور امکانات، نه لرو.

غریبک و ویل:

سمه ده!

زه به مې د مور سره، خبرې وکړم.

ډاکټر و ویل:

مور دې اوس چېرې ده؟

هغه و ویل:

روغتون ته نږدې، خپلې خورڼې کورته، تللې ده.

اوس به، راشي.

ډاکټر و ویل:

سمه ده!

کوم وخت چې راغله، زما خبرې، هغې ته ورسوه!

غریبک و ویل:

سمه ده!

حتمي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک
.............

بیا ډاکټر، غريبک ته و ویل:

کوښښ کوي هغه ته میوه او ترکاري، ډیره ورکړئ.

نرم خواړه ورته، وکړئ.

لمرته يې د څو ګړیو د پاره، و باسئ.

د هغه توشکه، بړستن او پټو هم د ورځې له خوا، لمر ته واچوئ.

کوښښ وکړئ، تر څو هغه وچ، وساتئ.

غريبک و ويل:

سمه ده!

مونږ به خپل کوښښ وکړو.

بیا ډاکټر و ویل:

سمه ده!

زه ځم چې، څه نور ناروغان، ما ته انتظار کوي.

غريبک و ويل:

سمه ده!

مننه کوم، ډاکټر صیب!

ډاکټر، روان شو.

غريبک هم د خونې و وت او تر ونې لاندې خپلې مور ته، سترګې په لاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

ونې سیوري ته، نږدې شو.

څادر يې پر ځمکې، واچوه.

پر څادر کښېناست.

ونې ته يې ډډه، وکړه.

مخ يې د لوې دروازې خوا ته وګرځاوه، تر څو خپله مور و وينې.

ګړې تېره شوه.

د هغې پته ونه لږېده.

په ونې کې د چونچڼو او ښارو ګانو(شاروګانو) شور ماشور و.

شور ماشور، هغه ته يې خوند ورکړ.

هغه په سوچ کې ډوب شو.

لږ، لږ پر هغه خوب، راغی.

سترګې يې پټې او بيده شو.

څو دکيکې، تېرې شوې.

د پاسه، څه را ولوېدل.

ډب شو.

هغه يې د خوب نه، راويښ کړ.

ګوري چې يوه پيښو منډې وهې او د هغه نه لرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

د پیشو په خولې کې، څه ښکارېدل.

غریبک سوچ وکړ کومه مرغۍ یا ښارو(شارو) ده.

بیا یې له ځانه سره و ویل:

دا هم د جګړو، چیغارو، شور ماشور پایله.

سترګې یې و مښې.

بیا له ځایه پاڅېد.

څادر یې و څاندہ.

پر اوږه یې، واچاوه.

له ځایه روغتون ودانۍ خوا روان شو.

سوچ یې وکړ چې اوس، مور به یې راغلې وي.

لمړی د روغتون ودانۍ بیا د پلار روغتون خونې ته، د ننه شو.

چوپ او چوپتیا وه.

نوې غرمه شوې وه.

د روغتون کارکونکو هم د غرمې ډوډۍ ویش، په ناروغانو پیل کړی و.

په دالانونو کې، د ناروغانو د ډوډۍ بوی، تر پوزې کېده.

غریبک کوټې (خونې) ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

سترګې يې پر مور ولګېدې کومه چې د هغه د کټ (چپرکت) پر ژی ناسته او د هغه سره يې، غورې کوې.

غریبک هم ورنږدې شو.

هغوی ته يې، سلام واچوه.

هغوی هم د غریبک سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې خپلې مور ته، و ويل:

ته نه وې.

ډاکټر راغلی و.

مور يې وپوښتل:

څه يې و ويل؟

غریبک و ويل:

هغه و ويل:

ستا د پلار اوسېدل په روغتون کې، کومه ګټه نه رسوي.

ښه به وي چې هغه، کورته يوسئ.

البته به يې د درملنې تر اخره، لمر ته وباسې، توشکه، بالښت او برستنه يې هم لمر ته واچوئ، کوښښ وکړئ چې هغه وچ و ساتئ.

بيا هغې و پوښتل:

دوايې يې ورته وليکه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

.............

غريبک د جوبه کاغذونه وباسل، اړخ په اړخ يې واړول، مګر پرې پوی، نه شو.

بيا يې خپلې مور ته و ويل:

زما سر خو پرې، خلاص نه شو.

له يوه کس نه به، پوښتنه وکړم.

په دې وخت کې د ډوډۍ ويشونکی د ننه شو.

غريبک هغه ته، و ويل:

ته په ليک پوهيږې؟

هغه و ويل:

لږ، لږ پوهيږم.

بيا يې د جب نه دوې کاغذونه و ويستل او هغه ته يې وړاندې کړل.

هغه هم په ځير سره کاغذونه ولوستل او غريبک ته يې و ويل:

دا يوه د دوايي کاغذ (نوسخه، نسخه) ده.

د وتو نه مخکې به هغه د روغتون د درملتون نه په وړيا ټوګه (ډول) اخلې او د لاربښونې سره به سم، خپل پلار ته، دوا ورکوې.

دا بله هم د روغتون نه د وتلو(رخصت) پارچه (کاغذ) دی.

تاسو بايد د غرمې نه مخکې د روغتون نه وتلي وای.

څرنګه تر اوس، دلته ياست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

غریبک و ویل:

زما مور وختی خپلې خوږنې کورته، تللې وه.

زه هم هغې ته منتظر وم.

بیا یې غریبک ته و ویل:

اوس خو دې مور دلته ده.

تاسو کولا شئ، خپل کور ته لاړ شئ.

مور یې و ویل:

هسې غرمه ده.

د غریبک د پلار برخه ډوډۍ راکړه چې هغه ته یې ورکړم، بیا به په کراره لاړ شوو.

کس و ویل:

د غریبک د پلار ډوډۍ نه اواله (حواله) نه ده.

زه نه شم کولای د نورو ناروغانو ډوډۍ، هغه ته ورکړم.

تاسو ژر، خپل کور ته لاړشئ.

څو دکیکې وروسته، ډاکټران بیا راځي.

هغوی به پر نرسانو او اداري کارکونکو په غوصه (غصه) شي.

بیا یې غریبک ته و ویل:

ژر شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

یوه ریکشا راوله او خپل پلار او مور دې په کې کښېنوه.

غریبک هم ریکشا پسې و وت.

مور یې څه کالي او شیان چې د کورنه یې راوړي وو، ټول کړل او د غریبک په انتظار شوه.

څه وخت تېر شو.

غریبک ریکشا راوسته او د روغتون په انګړ کې یې ودروله.

بیا په خپله، روغتون ودانۍ ته، د ننه شو.

د یوه بل کس په مرسته یې، خپل پلار تر ریکشا ورساوه.

مور یې هم څه کالي په لاس کې نیولي وو.

لمړی یې خپل پلار ریکشا ته وخېژاوه او بیا یې خپلې مور ته، و ویل:

کالی ماته، راکړه!

ته هم په ریکشا کې و خېژه!

هغه هم د لار ښونې سره سم، ریکشا ته و خته او پر څوکۍ کښېناسته.

بیا غریبک، هغې ته کالی په غېږ کې ورکړل.

وروسته هغه هم ریکشا مخې ته د چلونکي تر څنګ کښېناست او چلونکی ته یې و ویل:

په خیر ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک

.............

چلونکی هم ريکشا چالانه او حرکت يې وکړ.

ريکشا د روغتون لويې دروازې ته ورسېده.

د دروازې مسولو کسانو د هغه نه د وتلو پارچه و غوښته.

چلونکي و ويل:

پارچه کېدای شی د ده کس سره وي، کوم چې ناروغ لري.

بيا يې د غريبک نه، د وتلو پارچې پوښتنه وکړه.

هغه په جبونو کې لاس و واهه او دوې کاغذونه يې له جبه و ويستل او هغه کس ته يې، ورکړل.

هغه د وتلو پارچه واخيسته او غريبک ته يې و ويل:

د وتو سره سم د باندې ريکشا ودروه.

خپله دې د ننه، راشه.

نوسخه (نسخه) په وړيا توګه د روغتون درملتون نه تر لاسه او بيا کورته، لاړ شه.

بيا يې هغه ته و ويل:

ته ببخي ګنګس يې.

غريبک څه و نه ويل.

د ريکشا سره، دباندې شو.

د ريکشا چلونکي ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

د روغتون د لوی دروازې تر اړخ ودرېږه، زما له هېره وتي و، چه د نوسخې دوايي واخلم.

بیا څوک په دې ګرمۍ کې، دلته راځي.

چلونکی و ویل:

ځنډ خو به نه وځي؟

غریبک و ویل:

نه!

ډېر ژر بېرته راځم.

هغه و ویل:

که چېرې ځنډ شو، بیا به څه پیسې نورې، راکړې.

غریبک و ویل:

سمه ده!

زه به ډېر ژر، راشم.

ته سوچ مه کوه.

هغه د ریکشا نه کوز او په منډو روغتون ته، د ننه شو.

څټ ته یې هم و نه کاته چې ریکشا، چېرې ودرېده.

ژر یې ځان درملتون ته، ورساو.

الته لږ ګڼه ګونه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د درملتون کړکې ته په وار (نوبت ) ودرېد.

څو د کیکې وروسته یې وار(نوبت) راغی.

دوایي یې واخیسته او د دوا پلورنکي لار ښود ته یې، غوږ و نیو.

د دوا محال ویش یې زهن ته وسپاره او بیا بېرته په منډو، د روغتون نه و وت.

اخوا دېخوا یې وکتل.

ریکشا ګانې ډېرې، ولاړې وې.

ټولې ریکشا په یوه رنګ کې وې.

هغه وارخطا شو او له ځانه سره یې، و ویل:

چلونکی، تری تم شو.

له ځانه سره یې و ویل:

کېدای شی، هغه تللی وي.

زما د مور سره پیسې هم نه شته، هغه به یې له کومه کړي.

بیا یې د ولاړو ریکشا وو، په پلټنې پیل کړ.

کله یوې او کله بلې ریکشا ته لاړ او الته یې د ناستو کسانو لټه وکړه.

ځند وروسته یې خپله کرایي ریکشا وموندده، کومه چې د روغتون دېوال تر څنګ، ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

د موندلو سره سم، غریبک ډیر خوشحاله شو، او چلونکي ته يې و ويل:

ودې لید، څومره ژر راغلم.

زه خو په وعدې کې کلک او ټینګ یم.

چلونکی په غصه شو.

نه!

اوس به هم نه راتلې.

ګړي دې دلته ودرولم.

ته به ما ته ډېرې پیسې را کوې.

غریبک و ویل:

یوه افغانۍ به بله هم ډېره کړم.

ډېرې خبرې به، نه کوې.

بیا هغوې په دوې افغانیو، سره جوړ راغلل.

چلونکی ریکشا چالانه او له ځای نه یې حرکت وکړ.

څو دکیکې وروسته د غریبک کور ته نږدې ورسېدل.

غریبک ریکشا چلونکی ته و ویل:

دلته ودرېږه!

نوره لاره، نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

چلونکي و ویل:

سمه ده!

که لار وې، زه کولای شم، نور هم وړاندې لاړ شم.

غریبک و ویل:

نه!

نوره لاره، نه شته.

دلته به مونږ کوز، شوو.

چلونکي ریکشا ودروله او د غریبک د پلار په راکښته کېدو کې یې مرسته وکړه.

بیا غریبک د هغه پیسې ورکړې او د هغه نه یې مننه وکړه.

غریبک ورو، ورو د خپل پلار سره، روان شو.

بیا هغه خپلې مور ته و ویل:

مونږ ورو، ورو راځو.

ته د مخه شه او د کور دروازه خلاصه کړه.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا هغه، د مخه شوه.

غریبک د خپل پلار سره ور پسې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

لږ نه و تللی چې یوه ګاونډ یې، هغه ولید.

د روغبړ نه وروسته، هغه هم د غریبک سره مرسته وکړه.

هغوی کور ته، نږدې شوو.

مور یې ولاړه وه.

غریبک و ویل:

دروازه دې تر اوسه، نه ده خلاصه کړې.

مور یې و ویل:

ما خپل ټول جبونه، لټ په لټ کړل.

سوچ کوم، کیلۍ مې چېرې له یاده، وتې دي.

بیا غریبک هم حیران شو.

په خپلو جبو یې لاس کش کړ، څه یې په ګوتو ولګېدل.

بیا یې لاس جب ته، د ننه کړ.

کیلۍ یې لاس ته، راغلې.

هغه یې د جب نه و وېستې.

بیا یې خپلې مورې ته، ورکړې.

مور یې دروازه خلاصه او ټول انګړ ته د ننه شوو.

غریبک د خپل پلار سره ولاړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

مور یې و ویل:

تاسو برنډې ته نږدې شئ.

زه به کټ سم او توشکه به پرې، واچوم.

هغوی ورو، ورو کټ ته نږدې شوو.

د غریبک مور توشکه پرکټ اواره (همواره) کړه.

بیا غریبک د خپل پلار سره کټ ته نږدې شو اوخپل پلار یې پر کټ کېناوه.

مور یې بالښت هم، راوړ.

د غریبک پلار بالښت ته ډډه وکړه.

غریبک هم د هغه تر څنګ، کښېناست.

مور یې پخلنځي ځای ته، لاړه.

د منګي نه یې په تور چایجوش کې اوبه، واچوې او پر نغري یې کېښود.

بیا یې تر چایجوش لاندې، اور بل کړ.

څو دکیکي نه وې تېرې شوې چې اوبه وابېشېدې (جوشې شوې)، بیا هغه کوټې ته د ننه او بل سپین چایجوش یې د کوټې نه، راوړ.

هغه یې د نغري تر څنګ کېښود.

څه شین وچ چای یې، په چایجوش کې واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

بیا وېشولې اوبه يې په چایجوش کې، تشې کړې.

د چایجوش سر يې، بند کړ.

بیا يې اور مړ او سکروټې يې د نغری مخ ته، وباسې.

بیا يې سپین چایجوش، پرې کېښود.

د څو دکیکو د پاره يې چاى ته، دم ورکړ.

بیا هغه کوټې ته، د ننه شوه او څو پیالې يې په پتنوس (پطنوس) کې کېښودې.

هغه يې هم، نغري ته نږدې کړې.

لمړی يې هغه د وېشلو اوبو سره و مینځې او سر چپه يې په پتنوس کې، کېښودې.

بیا په یوه لاس کې يې پتنوس او په بل لاس کې يې چایجوش و نیو، او کټ خوایې، حرکت وکړ.

التـه يې په پیالو کې چاى، واچوه.

بیا يې غریبک ته و ویل:

کوټې ته لاړ او په تاخچې (طاقچې) کې کټوه ده، سر يې خلاص او څه ګوړه ټوټه او په غاب کې يې واچوه او دلته يې راوړه چې د چاى سره يې، و څښو.

بیا د کټوې سر بند، تر څو موږکان په کې و نه ګرځي.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
..............

سمه ده!

غریبک کوټې ته د ننه او لږ ځنډ وروسته یې ګوړه راوړه.

ټولو د چای سره وښښله.

لمر هم خورا تود او هغوی ته یې خوند ورکړ.

بیا غرمه او شپه شوه.

څو ورځې تېرې شوې.

د غریبک د پلار په صحت کې کوم بدلون را نه غی.

ورځ تر بلې به، ورانېده.

دوایي هم هغه ته، کومه ګټه و نه رسوه.

یوه ورځ د غریبک په پلار د زړه حمله راغله.

غریبک هم په کور کې و.

هغه خپل پلار د ګاونډیانو په مرسته، روغتون ته ورساوه.

ډاکټرانو د هغه پر معاینې پیل کړ.

مګر ونه توانېدل د هغه ژوند، وژغوري.

بیا یې خپل پلار مړی روغتون کې پرېښود.

کورته لاړ.

ګاونډیان او نور خپلوان یې، خبر کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک
..............

ماسپښين يې، جنازه کورته راوړه.

الته يې ولمباوه (غسل ورکړ).

بيا يې د شرغي اصولو سره سم، کفن او مازيگر نه مخکی يې نږدې اديرې (هديرې) ته، يوړ او الته يې خاورو ته، وسپاره.

سبا يې په جومات کې پاتيا (فاتحه) واخيسته او په درېيمې ورځ يې ترخه شوله، خيرات کړه.

څه وخت تېر شو.

کله به يې د خپلې مور سره په کورنو کې مرسته کوه او کله به يې جلا په کورونو کې سندرې (بدلي) او دايره وهه.

پيسې به يې ټولوې او خپل ژوند به يې پر مخ بوته.

څو کاله تېر او مور يې هم مړه شوه.

هغه يې د ماما گانو او گاونډيانو په مرسته، خاورو ته وسپاره.

د مور د خير او خيرات نه وروسته، هغه دې ته اړ شو ترڅو کرايي کور پرېږدی.

شپه او ورځ د دوستانو او انډيوالانو سره، تېره کړي.

څه موده، تېره شوه.

په هېواد کې، څه حالات وران شوو.

ځينې جهادي تنظيمونه(حزبونه) پاکستان او ايران هېوادونو کې د غربي نړۍ په مرسته جوړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

هغوی خلک هڅول تر څو د کمونیستي پلوه حکومت پر وړاندې ودرېږي (جهاد) وکړي.

ځینو کسانو(مجاهدینو) به په لویو لارو، حملې کوې حکومتي موټر به یې سوزول، کسان به یې هم له موټر نه ښکته کول او ځیني به یې هم ویشتل.

ځینې وختونه به یې د سړکونو تر غاړې مینونه خښول او همدا راز به یې کوشني پلونه او پلچکونه ورانول.

حکومتی کسانو به هغوی ته، اشرار ویل او هغوی به هم حکومتی کسانو ته کمونیستان او کافر ویل.

ورځې او شپې تېرېدې.

غریبک یوه ورځ لغمان ولایت مرکز ته د دیوه سونتي (سنتي) په مجلس کې و وبلل شو.

مازیګر الته لاړ.

تر سهاره یې مجلس تود (ګرم) وساته.

سهار هر څوک خپلو موخو پسې، لاړل.

غریبک هم څه پیسې واخیستې او د مجلس له ځایه و وت.

لمړی د جلال آباد موټرو اډې (هډې) ته لاړ او په یوه زاړه بس موټر کې کښېناست.

ګړۍ وروسته بس ډک او د جلال آباد پر لور یې، حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............

څه ځنډ وروسته سرخکانو سیمې ته ورسېد او الته په کې څه نور کسان هم ځای پر ځای او د موټر جنګلې ته، و ختل.

د هر چاه سره، کوشنۍ کڅوړې او پنډکې وو.

بیا موټر د ګل پاچا الفت مقبرې (قبر) ته نږدې شو.

چلونکي د موټر د لیلېټر ستنه، وکته.

ستنه لږ اوچته شوې وه.

هغه موټر د عزیزخان کڅ د یوې کوشنۍ ویالې (بیالې) تر اړخ ودراوه او خلکو ته یې و ویل:

د موټر ستنه اوچته شوې ده.

زه به د موټر لیلېټر سوړ کړم.

څوک که څه اړتیا لري، کولای شي، سمه (لرې، رفع) یې کړي.

خلکوهم مننه وکړه او د موټر(بس) نه کوز شوو.

لږ ځنډ وروسته بیا کلینډر غږ کړ:

اله (هله) موټر ته وخېږئ.

بیا چلونکی هم، څو هارنډونه، وکړل.

خلک بېرته راټول او پر خپلو ځایونو، کښېناستل.

موټر حرکت وکړ.

موټر، درونتې سیمې ته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرييک

.............

په دې سيمې کې له يوې خوا کابل سين (سيند) اود بلې خوا يې غرونه او خوړونه دي.

الته به کله نا کله مجاهدين سړک ته راوتل او خپل عمليات به يې کاوه.

په دې ورځ هم هغوی سړک ته راوتي وو، موټر به يې درلول او تلاشی کول.

بس هم الته نږدې شو.

خلکو وکتل چې مجاهدين سړک ته، وتي او تلاشۍ کوي.

ځينو خلکو و ويل:

موټروانه!

چابک شه!

موټر، بېرته وګرځوه.

چلونکي و ويل:

اوس ناوخته ده.

که موټر بېرته وګرځوم، هغوی پر مونږ شک کوې.

بيا به پر مونږ، ډزې وکړي.

خلک به ژوبل شي.

ښه به وي چې يوه د بل سره مرسته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

بیا خلکو خپلې کلیمې و ویلې.

موټر نږدې شو.

په هغه وخت کې موټر هم لږ وو او چا چې به عاجله کار نه درلود، له یوې خوا نه به یې بلې خوا ته، سفر نه کاوه.

په دې وخت کې یوه کس چلونکی ته لاس وخوزاوه تر څو سړک غاړې ته ودریږي.

چلونکي هم، هغه د لار ښوونې سره، سړک غاړې ته ودرېد.

بیا یې د بس خلکو ته و ویل:

د خپلو ځایونو نه، په چټکۍ سره کوز او خپلې کڅوړې خپلو مخې ته کیږدئ.

خلکو، په ښکته کېدو پیل کړ.

بل یې، غږ کړ.

نارینه دې یوې خوا او ښځینه (زنانه) دې، بلې خوا ودریږي.

په دې وخت کې غریبک لږ د مخه شو او یوه کس (مجاهد) ته یې و ویل:

وه اشرار لا لا، زه چېرې ودریږم؟

د هغه هم د اشرا ویلو کلیمې ته پام نه شو او هغه ته یې و ویل:

ته تر اوسه نه پوهیږي چې کومې خوا، ودریږې؟

څو څپېړې یې و واهه او ورته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

التـه د نارینو سره، ودرېږه!

هغه لږ لاړ او بیا یې هغه ته و ویل:

وه اشرار لالا زه خو نرښیځک یم؟

د هغه ورته پام شو او په وهلو یې، پیل کړ.

بیا سپین ږیري وړاندې شوو او هغه یې د وهلو نه، خلاص کړ.

بیا کس غریبک ته و ویل:

ته، دلته کښېنه!

هغه هم پر یوې تیږې، کښېناست.

لمړی یې خلک او وروسته، موټر تلاشي کړ.

په موټر کې یوه وچ کلک یانې نری، پری هندو افغان، هم و.

هغه یې هم د موټر نه، کوز کړ.

بیا یې په موټر کې دایره ومونده او چلونکي ته یې و ویل:

دا دایره د چاه ده؟

هغه و ویل:

دا د غریبک ده.

دایره یې واخیسته او د موټر نه کوز شو.

بیا یې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

غریبک څوک دی؟

هغه له ځایه راپورته شو او ویې ویل:

زه یم.

بل کس (مجاهد) و یل:

په دایره څه کوې؟

هغه و ویل:

زه په مجلسونو کې، دایره وهم او پیسې غونډوم.

هغه و یل:

دا خو ناروا (حرام) کار دی.

بل یې راغی او هغه یې بیا څو څپېړې و واهه.

بل یې غږ کړ:

وخت ډېر تېر شو.

راټول شئ چې، لاړ شوو.

اوس به حکومتي کوا (قوا) راورسېږي.

بیا به الوتکې هم بمباران، وکړي.

وروسته یې د بس کسانو ته و ویل:

چابکه شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

موټر ته وخیږئ.

خلکو موټر ته په ختو پیل کړ.

بیا غریبک و ویل:

ځه څه وکړم.

کس و ویل:

ته دا هندو په شا او په خوړ کېږې ، پورته کړه!

غریبک هم هندو په شا او خوړ کې، پورته شو.

بس ولاړ او د دوو کسانو، په انتظار کې و.

بیا کس (مجاهد) و ویل:

ولې ولاړ یې؟

حرکت کوه!

چلونکی و ویل:

زمونږ دوي کسان، تاسو سره دي.

هغه راخوشې کړئ، بیا به حرکت وکړو.

کس و ویل:

تاسو لاړ او هغوی به د غرمې ډوډۍ نه ورسته، خوشې کړو.

کس بیا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر حرکت وکړي.

بیا یې څو اوایې (هوایی) دزې هم وکړې.

خلکو سوچ وکړ چې، جګړه پیل شوه.

خلکو چلونکي ته، و ویل:

چابک شه!

لکه چې جګړه، پیل شوه.

د هغوی راپور به حکومتی کسانو ته، ورکړو.

چلونکی هم و منه، موټر یې چالان او د ځایه یې، حرکت وکړ.

هغوی د نورو موټرو نه څه حکومتی کسان، عسکر، وسلې او پیسې هم ټولې کړې وې.

کسانو(مجاهدینو)، حکومتی مامورین، عسکر، غریبک او هندو خپلو پوستو ته، کومې چې د تور غره، په منځ کې وې، ویوړل.

الته یې خپلو مشرانو او بهرنيي مشاورینو ته، وښودل.

بیا یې د سهارنيي عملیاتو پایله د هغوی سره ګډ (شریکه) کړه.

غریبک او هندو د څو ورځو د پاره، الته وو.

څو ورځې وروسته یې خوشې کړل.

هغوی دواړه تر پاخه سړکه، یوه ځای لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريبک
.............

بيا ورو، ورو په پښو درونتې او بيا د درونتې د سورۍ تيرې (تونل) نه وا وښتل او جلال آباد ښار څنډې ته، ورسېدل.

الته په بګې کې کېناستل او جلال آباد ښار ته، د ننه شوو.

هندو په خپلې مخي پسې لاړ.

غريبک ډير وېرېدلي و.

لمړی خپلو دوستانو کور ته، لاړ.

الته يې ټولې کيسې، وکړې.

هغوی هم وارخطا شوو.

بيا يې غريبک ته، و ويل:

ښه شو چې په خير دربادې، تېر شو.

په ژبه دې احتياط کوه.

هسې خدای، ساتلی يې.

که نه، مونږ به چېرې در پسې، ګرځېدو.

غريبک و ويل:

هو!

ما تېروتنه (اشتباه) کړې ده.

د چا پلار به هغوی ته، اشرار ونه شي وبپلای.

د مور او پلار دوعاوې (دعاوې) او د خدای ساتنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرييک

.............

که نه، زه به اوس مړ وم.

د غرمې ډوډۍ خوړو نه وروسته، غرييک ښار ته لاړ.

پاتې ورځ يې په باغ کې تېره کړه او ماښام ناوخته، خپلو ملګرو کورته، ستون شو.

کاروبار مخ په لګېدو شو.

حالات نور هم کړکېچن شوو.

کال وروسته مجاهدينو حکومتي نظام ونيو.

ځلور مياشتې نه وې تېرې شوې، چې هېواد کې تنظيمي (خپلمنځي) جګړې پيل شوې.

کابل ښار په څو برخو، و وېشل شو.

هره برخه يې، د يوه تنظيم (حزب) تر ولکې لاندې وه.

جګړي پيل او کابل ښار ډېرى برخې او سيمې ورانې شوې.

ځينو رسنيو د راپورونو له مخې تر ۶۰۰۰۰(تر شپېتو زرو) ډېر کسان کابل ښار کې، شهيدان او پر زرګونو نورکابل ښاريان تېپيان شوو.

ډېرى يې د کابل د يوې سيمې نه بلې سيمې ته او ورسته د ننګرهار ولايت بيا ګاونډ هېواد ( پاکستان) ته، مهاجر شوو.

غرييک هم د جلال آباد ښار نه، ګاونډ هېواد ته، کډه شو.

التبه يې د ملګرو سره، په کمپ کې ژوند پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

الته يې بيا خپل پخواني دوستان او ملګري وموندل.

خپل کار او مزدوري يې پيل کړې.

دوستانو او د خلکو خوشحاليومجلسونو کې به يې ګډون کاوه.

د خلکو په شونډو کې به يې موسکا (خندا) راوسته او خلک به يې خوشحاله، ساتل.

خلکو به هم، هغه ته څه پيسې ورکوې.

د هغه ژوند هم په خوشحالۍ سره تېرېده.

څه موده تېره شوه.

هغه لږ ناروغه شو.

ملګرو يې، هغه روغتون ته، يووړ.

الته يې د هغه دوايي وکړه.

بيا د جوړېدو نه وروسته هغه د يوه ملګري په کور کې پخلی کوه، کوم چې د پېښور ښار په ټاکال سيمې کې، ژوند کاوه.

هغه به سر بېره پر پخلي، کالي مينځل، د کور سودا به يې له بازار نه راوړه، ماشومان به يې ښوونځي ته، بېول.

هغه په ژوند کې ډېر خوشحاله و، ډيرو خلکو، هغه پېژانده.

کوم افغانان چې به د ګاونډ هېواد نه اروپايي ملکونو او يا امريکا، کانادا او آسترليا هېوادونو ته تلل، خپل کور کالي او لوښي به يې هغه ته سپارل چې ځانته يې خرڅ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
.............

ځینو نورو به هم، هغه ته نغدې پیسې لېږلې.

د هغه ژوند خورا ښه او آرامه و.

کلونه تېر شوو.

په هېواد کې حالات بدل شوو.

لمړي د طالبانو حکومت بیا وروسته هېواد د امریکایانو تر اشغال لاندې راغی، شل کلن امریکا پلوی حکومت، لړنګ شو.

امریکایان د خاورې وتو ته، اړ شوو.

هېواد کې د دوبیم ځل له پاره طالبانو، ولکه ټینګه کړه.

مګر د غریبک په هکله ځوک سوچه (روغ، پاخه او دقیقه) معلومات، نه لري.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

..............

## د چاپ شویو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک
..............

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دخاخکو هار (د یوه سړي لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سیلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برسټن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
۲. لیونی لېوه
۳. د خاورو لاندې ښار
۴. سپین کارغه
۵. سور تنور
۶. خړه بیزو
۷. بندي مرغه
۸. بې وخته باران
۹. د ژوند پای
۱۰. د ژوند خوږې او ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبک

.............

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Gharibak

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** August-September /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**